

# د خپل ماشوم په ښوونځي کې د نژاد پالنې او تبعیض په اړه ځنګه راپور ورکړئ

Pashto

**ستاسو ماشوم د ښوونځي په ټولنو کې د درناوي، ارزښت او مساوي چلند مستحق دی.**

**د مذهب او نژاد پر بنسټ تبعیض یا ناوړه چلند د زغملو نه دی.**

که تاسو د یو ماشوم مور/پلار یا پالونکی یاست چې  د دوي په ښوونځي کې مو مذهبي یا نژادي تبعیض یا ناوړه چلند تجربه کړي یا لیدلی وي، مور تاسو هڅوو چې راپور یي ورکړئ.

د ښوونځي کارکوونکي کولی شي داډ ترلاسه کړي چې مناسب اقدام او ملاتړ چمتو کړل شي.

تاسو کولی شئ د پیښې په اړه رسمي شکایت ښوونځي یا سیمه ایز دفتر ته وکړئ.

د نورو مالوماتو لپاره، وګورئ:

[د خپل ښوونځي په اړه شکایت یا اندیښنه غږ پورته کړي (education.vic.gov.au)]

## د نژاد پرستۍ په هاټ لاین (REPORT RACISM HOTLINE) کې د یوي پیښي راپور  ورکړئ

**Report Racism Hotline**

1800 722 476

report.racism@education.vic.gov.au

دا هاټ لاین د سهار له 9 بجو څخه د ماسپښین تر 5 بجو پورې د دوشنبې څخه تر جمعه، د عامه رخصتیو  ورځو پرته شتون لري،.

که تاسو د خپل ماشوم ښوونځي ته د یوي پیښي د راپور ورکولو لپاره د هوسایني احساس نه کوي، یا که تاسو د ښوونځي له ځواب څخه خوښ نه یاست، تاسو کولی شئ د وزارت د Report Racism Hotline سره اړیکه ونیسئ.

کله چې تاسو هاټ لاین ته زنګ ووهئ، تاسو به وکولی شئ:

- د شکایت کولو په اړه خبري وکړئ
- شته انتخابونه په پام کې ونیسئ او څه چې تاسو وروسته کولي شي
- د سیمه ایزو افسرانو او ملاتړ خدماتو سره د اړیکو لپاره مرسته ترلاسه کړئ.

## د PARENTLINE له لارې تلیفوني مشوره او ملاتړ ترلاسه کړئ

**Parentline**

13 22 89

www.parentline.vic.gov.au

Parentline د سهار له 8 بجو څخه تر نیمې شپې پورې، په اونۍ کې اوه ورځې، د عامه رخصتیو په ګډون شتون لري.

تاسو ممکن د Parentline سره اړیکه ونیسئ ترڅو د یو مسلکي مشاور څخه مشوره او ملاتړ ترلاسه کړئ چې د وزارت څخه خپلواک وي.

Parentline د مور او پلار او د زیږون څخه تر 18 کلنۍ پورې د ماشومانو پالونکو لپاره د محرم او نا پیژندونکي مشورتي تلیفوني خدمت دی.

مشاورین شتون لري چې د والدینتوب ډیرو مسئلو ، په شمول دي په ښوونځي کې تبعیض یا ناوړه ګټه اخیستنه په اړه خبرې وکړي.

## ګټور مالومات

په ښوونځیو کې د مذهبي یا نژادي تبعیض او ناوړه چلند راپور ورکولو په اړه د نورو مالوماتو لپاره وګورئ:

[په ښوونځیو کې د نژاد پرستۍ یا مذهبي تبعیض راپور ورکړئ (education.vic.gov.au)]

ځورونې (bullying) ته د ځواب ویلو په اړه د نورو مالوماتو او سرچینو لپاره، په شمول د نژادي ځورونې وګورئ:

[د ځورونکي درونکي (education.vic.gov.au)]

### د ژباړنې او ترجمې ملي خدمت (TIS)

والدین یا پالونکي چې د ژباړې خدماتو ته اړتیا لري کولی شي د ژباړنې او ترجمې ملي خدمت (TIS) ته په 50 14 13 ته د زنګ وهلو له لارې وزارت یا Parentline سره اړیکه ونیسي.

THE EDUCATION STATE

VICTORIA State Government | Education and Training